
# ولې د افغانستان خبریالان پرلپسې تر بریدونو لاندې دي!؟



**خبر:**

وروستۍ دوې چاودنې چې د ثور په ۱۰مه د کابل په "شش‌دَرَک" سیمه کې وشوې، ۲۶ کسان پکې ووژل شول، چې ۹ خبریالان او انځور اخیستونکي هم پکې شامل وو. داعش ډلې د دغه برید مسئولیت پر غاړه واخیست. تر برید وروسته د افغانستان رسنیو د یوې اعلامیې په خپرولو د جرایمو له نړیوالې محکمې او د ملګرو ملتونو له امنیت شورا څخه د دې پېښې د جدي څېړنې غوښتنه وکړه. همدارنګه د همدې ورځې په سهار په خوست کې بل خبریال هم د وسله‌والو هدف وګرځېد او ووژل شو.

**تبصره:**

په دې وروستیو کې امریکا د افغانانو تر منځ د سولې پروسې د ملاتړ تر نامه لاندې ترور او وحشت وروستي حد ته رسولی. ظاهراً د جګړې د سختېدو سیاسي منطق په جنګي جبهو کې د طالبانو ماتې او د سولې خبرو اترو ته د هغوی مجبورول بولې. په داسې حال کې چې امریکا اوسمهال په افغانستان کې تر سولې د جګړې شدت ته زیاته اړتیا لري. تر څو له یوه لوري په افغانستان کې خپل اوږدمهاله شتون ته لازم توجیهات ولري او له بله اړخه د سیمې د هېوادونو لکه چین او روسیې پر وړاندې توطیې وکړي؛ ځکه په سیمه کې د دې جنګي پروژې د پر مخ بېولو لپاره د طالبانو او القاعده له نومونو څخه د استفادې په دوام اوس د داعش له نامه هم ګټه اخلي.

په افغانستان کې د داعش مرموز فعالیتونه د دې لامل شوي، تر څو خلک د «تروریزم» پر وړاندې د امریکا د جګړې اصلي ماهیت درک کړي. په دا ډول درک کې حتی هغه رسنۍ او خبریالان هم شاملېږي، چې خپله امریکا هغوی تمویل او تجهیزوي. ځکه ځینې وختونه دوی داسې تحلیلونه او راپورنه خپروي، چې د امریکا خونړۍ پالیسۍ افشا کوي.

لکه څنګه چې افغان خبریالانو ته د امریکایي سفیر په ځانګړې ملمستیا کې له هغه مستقیماً پوښتنه کېږي، چې خلک د داعش له فعالیتونو دې پایلې ته رسېدلي چې داعش د امریکا پروژه ده؛ په دې اړه د رد او محکومیت پر دریځ سربېره خلکو ته کوم قانع کوونکي دلایل او شواهد وړاندې کولی شئ؟ د امریکا سفیر جان بس، چې مخکې په ترکیه کې د امریکا سفیر و او د داعش د متفکر مغز په نوم یې شهرت موندلی، بې‌ځوابه کېږي او له کره ځواب ورکولو پرته له پوښتنې تښتي او په خندا یې تېروي.

له همدې امله امریکا د رسنیو له شته ازادۍ رضایت نه لري او داسې کارونه کوي، چې د رسنیو کسان نور په افغانستان کې د امریکا پر کرغېړنو او وحشتناکو سیاستونو د انتقاد جرئت ونه لري. له بل پلوه د دا ډول بریدونو تر سره کول، چې بالاخره

پړه يي پر داعش ختمېږي، په ټولنه کې د دې ډلې لپاره زياته فضا نيولی شي؛ ځکه د رسنيو پر کسانو برید په رسنيو کې زيات انعکاس موندلی شي او دا کار دغې ډلې ته د فضا جوړونې لپاره خورا ساده لاره ده.

په دې اړه تېر کال د روښنايی جنبش په لاريونو کې له خونړۍ چاودنې وروسته، د پارلمان غړي او د دغه خوځښت رهبر احمد بهزاد په ښکاره اعلان کړه، چې داعش د افغانستان د ملي امنيت شورا دويم نوم دی. په همدغه ترتيب د طلوع نيوز خبرياله انيسه شهيد د افغانستان د ملي امنيت له رييس رحمت الله نبيل څخه نقل کوي، چې د هغه د رياست پر مهال حکومت رسماً له ده غوښتي وو، چې د ملي امنيت ارګان په افغانستان کې د داعش فعاليتونه ستر وښيي. حتی هغه ژورناليست چې په خوست کې ووژل شو، څه موده وړاندې يي په خوست کې د امريکايي جنايتونو په اړه يو راپور چمتو او خپور کړی و.

پر دې سربېره په ځينو پېښنو کې چې داعش ته يي نسبت ورکول کېږي، اصلاً د داعش رسمي دريځ نه دی موندلی شوی؛ بلکې د افغانستان د ملي امنيت رياست په وسيله په رسنيو کې خپلو نفوذي کسانو ته ديکته کېږي او هغوی هم د راپور د چمتو کولو پر مهال هغه په داعش پورې تړي، چې بالاخره همغه پېښنه په عامه فضا کې د داعش په نامه پای مومي. تر دې چې په دې اړه دولت فوتوشاپ شوي انځورونه هم د رسنيو په واک کې ورکړي. دا تورونه له داعش ډلې د افغانستان د ملي امنيت رييس او مشاور د ملاتړ په اړه د ځينو روسي رسنيو له ادعاوو سره هممهاله لګول کېږي، چې د ناپېژنده هلي‌کوپترو په وسيله يي د افغانستان په مختلفو سيمو کې ځای پر ځای او تجهيزوي.

د يادولو وړه چې امريکا له افغانستان سره د امنيتي او ستراتيژيکو تړونو له لاسليک وروسته خپل ځواکونه د سمنټي ديوالو تر شا ساتلي او د افغانستان د مسلمانو خلکو پر وړاندې خپله نيابتي جګړه د افغان امنيتي ځواکونو او خپلو کرايي قاتلينو په وسيله پر مخ بيايي. تر دې چې د دغه تړونونو سرسخت پلويان او توجيه‌ګران اوس د تجديد نظر او له امريکا سره د هغه د فسخ کېدو غوښتنه کوي.

د پايلې په توګه بايد ووايو چې له اشغالګرو کفارو سره دوستي طبعاً دا ډول ترخې پايلې لري. له دې امله د افغانستان رسنی بايد په اسلامي خاورو کې د استعمار له تنظيموونکو بنسټونو لکه د جرايمو له نړيوالې محکمې او د ملګرو ملتونو له امنيت شورا څخه د ښېرنو غوښتنه ونه کړي؛ بلکې هغوی بايد د خلکو د واقعي سترګو او غوږونو په څېر عمل وکړي او د پردې تر شا حقيقتونه بايد په خلکو کې د اسلامي ويښتابه لپاره افشا کړي، تر څو د امريکا او غرب د جګړه‌ييز ماشين برخه ونه ګرځي او خپل اصلي رسالت لکه څنګه چې اسلام يي غوښتنه کوي، په خورا غوره توګه ادا کړي. له شک پرته چې دا د زړورو او صادقو خلکو کار دی.

**سيف الله مستنير**
**د حزب التحرير ـ ولايه افغانستان د مطبوعاتي دفتر رييس**